مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۴/۲۶

# د سیندونو د شنیلیو شاعر نه مري

# د اسحق ننگیال دوه ویشتم تلین



**ننگیال په داسې چاپېریال کې شعر وايي چې ده ته د خپل کلي چنارونه دار شوي و.**

**دې ځوانیمرگ د خپل تپي وطن، وچو گودرونو، پرې ونو او... په ویر کې، له خپل وچ کلک او زیر زبیښلي وجود نه؛ نه ایساریدونکي آهونه را ایستل او «یو باد یو منصور» یې وروستی آه دی.**

آصف بهاند

نن د اسحق ننگیال دوه ویشتم تلین دی. دوه ویشت کاله مخکې، زه د ماسکو د پنډیگري له ستونزو سره لاس گریوان وم چې د ده د مرگ خبر را ورسېد. لکه تندر چې لوېدلی وي، داسې په غوږونو او خاطراتو کې کړنگهاری شو ، لاره یې رانه ورکه کړه. تر ما پورې د ننگیال د خبر را رسونکی، په ماسکو کې د «نوید» د خپروني مسؤل ښاغلی فردا و او د مرگ له خبر سره سم یې  غوښتنه رانه وکړه چې ته خو به ننگیال ته یو څه ولیکې. ما په ډېر بد رواني حالت



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

کي، خپل تأثر لیکلی  و او د فردا په «نوید» کي خپور شوی و. د ننگیال په باب څو لنډې لیکني چي ما لیکلي دي، سر لیکونه یې دا دي:

**ـ او نور اسحق بزغلي نه راوړي،**

مآخذ:

نوید (له ماسکوڅخه خپریدونکی اخبار)، څلورم کال، دریمه گڼه، دریم مخ، د ۱۹۹۸کال اگست،

**ـ «له خوشحاله تر ننگیاله» د ننگیال د بیوسه ژوند یو رېښتینی غږ،**

دا لینک دی:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Bahand_a_khoshal_nangyal.pdf

**ـ د ننگیال «یو باد یو منصور» او زما ورک یادداشتونه،**

دا یې لینک دی:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_yawbad_yawmansor.pdf

ـ «لبمي په دام کي» (د اسحق ننگیال د شعري انځورونو په بڼ کي)،

دا یې لینک دی:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Bahand_a_ishaq_nangyal3.pdf

دلته به زه د ده د مړیني په باب  خپله لومړنی لنډ خپور کړی تأثر او د «د ننگیال «یو باد یو منصور» او زما ورک یادداشتونه» له مقالي څخه یوه برخه راواخلم او په پای کي به د ننگیال د ژوند وروستی غږ (یو باد یو منصور) هم را واخلم چي د ده وروستی ویل شوی شعر گڼل کېږي:

**او نور اسحق بزغلي نه راوړي:**

بیا هم مرگ، بیا هم د غم لړي او په دې لړو کي له موږ نه لار ورکه ده او لاس و پښي وهو او... مرگ د خپلي همیشنی دبمنی په لړکي زموږ د فرهنگ له بڼ څخه یوه بله ځانگه ماته کړه. دا ځل یې بیا کاري گزار وکړ، بیا یې په کړس، کړس وخندل او دا وار یې د قهر له خندا نه په ډکو څپو کي د بزغلیو د بنوال غاړه ماته کړه.

هوکي!

موږ نه یې دا ځلي اسحق واخست، ننگیال یې رانه یووړ.

زه له ننگیال سره ډیر نه یم پاتي شوی. لومړنی پېژندنه مو داسي وشوه چي:

زه په سرو خلو کي گرځېد م، چي مخي ته مي غوړیدلي بزغلي راغلل. د ژمي یو سوړ ماخوستن و، په توده صندلی کي ناست وو، چي لطیف لالا (ډوکتور لطیف بهاند) کور ته راغی. تر روغبړ نه وروسته یې ما ته یوه دوسیه راکړه او وې ویل:

دا به وگوری!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ما چي دوسيه پرانستله، پر لومړنی پاڼه باندې يې ليکل شوي وو:

**سپيره ډاګونه او غوړيدلي بزغلي.**

دغه سرليک، نا څاپه راباندې پسرلی کړ او خدای زده چي د پسرليو پر وزرونو باندې يې په کومو شنو باغونو کي وګرځولم.

بيا مي ولوست:

سپيره ډاګونه او غوړيدلي بزغلي.

نا قراره وم، زړه نا زړه مي لالا نه پوښتنه وکړه:

شاعريې څوک دی؟

ده په مينه راته وويل:

اسحق ننګيال.

ــ څوک دی، د کوم ځای دی؟

ــ د مشرقي د خوا دی، د کورنيو چارو په وزارت کي کار کوي.

په مينه، مينه مي دوه دري شپې د سپېرو ډاګونو اوغوړيدلو بزغليو په وړو نازکو پولو کي چکر وواهه. لالا سره مي دوه درې ورځي د بزغليو په ښکلو او نازکو اندامونو بحث او خبرې وکړې. بيا څه موده وروسته نازک بزغلي په سپيرو ډاګونو کي وغوړيدل، ثمر ته ورسيدل او لاس په لاس به ګرځيدل.

اوس مي سم نه يادېږي چي چيرته کومه مشاعره وه، که کوم سيمينار و؛ چي مخي ته مي يو لوړ وچ کلک ځوان ودريد، خوله يې له خندا ډکه وه، په ډيره مينه يې زما لاس کېښکود، زموږ د جوړ تازه په لړ کي چا غږوکړ:

اسحاق ننګيال دی.

هلته مو بيا ډيره مرکه سره وکړه او وروسته به مو بيا کله، کله په فرهنګي محافلو کي سره ليدل.

د وخت په تيريدو سره د اسحاق نور بزغلي هم وغوړيدل، ګل شول او بيا يې نور ډاګونه شنه کړل او خواره واره ګلونه به يې بيا کله ـ کله په خورو ورو پولو پټو کي سر راپورته کاوه.

هيڅکله مي فکر نه کاوه چي د بزغليو بنوال دې خپل بزغلي يوازې پرېږدي. وختونه تېريد ل، چي زموږ د فرهنګ په ښکلي بڼ باندې د راغلي طوفا ن څپې نورې هم توندې او مرګوني شوې. هر څوک هرې خوا ته ولاړل، تول فرهنګيان بې کوره، بې اوره، بې آدرسه، بې محله، بې ياره، بې دلداره، بې ژونده او بې بزغليوشول.

د لږ راشنه شويو بزغليو رنګ په ژيړيدو شو او دا دی چي اوس خپله بنوال سر وخوړ؛ نو بزغلي به څنګه وده وکړي، اوس به نو سپېرو ډاګونو ته څوک شنه بزغلي راوړي، څوک به د بزغليو بيخونه سستوي چي وده وکړي.

او دا دی د شنو بزغليو بنوال نه شته، اسحاق نه شته او سپېره جل وهلي ډاګونه چغي وهي چي موږ تږي يو،

شنيلی غواړو،

بنوال غواړو،

ننګيال غواړو.

او دا دی اسحاق نه شته او...

مآخذ:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

نوید (له ماسکوڅخه خپریدونکی اخبار)،څلورم کا ل،دریمه گنه،دریم مخ،د۱۹۹۸کال اگست.

**د ننګیال «یو باد یو منصور» او زما ورک یادداشتونه، ځخه څو کرښي:**

... نه پوهیږم چي ولي مي دا څو ورځي اسحق ننګیال خوږ، خوږ پر زړه وریږي او نوستالژیک یادونه یې داسي رانه چاپیر دي چي د سترګو په رپ کي مي له ډنمارک نه ماسکو او بیا کابل ته بیایي او بیرته مي ډنمارک ته راولي. ده کړي او ما کړي مي داسي یادیږي، لکه یوه شیبه مخکي مي چي ورسره لیدلي وي، یوه شیبه مخکي مي ورته ویلي وي او یوه شیبه مخکي مي ورنه اوریدلي وي.

ورو مي خپل آرشیف پرانست، په لټولو مي پیل وکړ، یوازي د استاد بریالي باجوړي یو څو کرښي په مخه راغلي چي په فیسبوک پاڼه کي یې خپري کړي وي او یو مي هم د «سیندونه هم مري» بریښنایي کاپي ومونده، نور هیڅ. تنده مي ماته نه شوه، خپل واره کاغذي کتابتون ته ودریدم چي د «سیندونه هم مري» چاپي بڼه مي تر سترګو شوه. را وامي خیسته، که ګورم څه زیږ بخوني پاڼي په کي ایښي وي، خلاصي مي کړي چي له خپلو ورکو یادداشتونو سره مخ شوم. دا هغه یادداشتونه و چي ما په ماسکو د دې له پاره لیکلي وو چي غوښتل مي د ننګیال د لومړي تلین په پار څه خپاره کړم، خو...

زه نه غواړم پر دې یاداشتونو نوې کتنه وکړم، کټ مټ به یې دلته خپاره کړم او ورسره هغه څو خاطرې چي څنګه مي د ده لومړنی شعري ټولګه ولیده او څنګه عملاً له ننګیال سره مخامخ شوم او...

ما تر اوسه پورې د ننګیال په باب یوازې یوه مقاله خپره کړې ده چي اوس یې پرته سرلیک نه، بل څه نه شته راسره. زه په ماسکو کي د یو لوې فزیکي او رواني فشار تر پیټي لاندې وم چي د ده د مرګ خبر راغی او په ډیرې خواشینی سره فاروق فردا را ته په تیلیفون کي وویل:

« ننګیال هم ولاړ او ته به...»

... بیا نو بادونه او رنګونه په ګډه سره راغلل او ټولنه یې داسي سره ګډه وډه کړه چي له هیڅ شي سره یې سرې تشبیه کولای نه شي. موږ هم له بادونو او رنګونو نه د خلاصون په خاطر، په تیښته شوو او:

**«زه چیرته لرې په پردي وطن کي**

**ستا د یادو د اور خلیل یم**

**خو ګلزار کي سوځم.»**

(آصف بهاند)

په نوې ټولنه او نوي چاپیریال کي داسي ونښتم لکه جولا چي خپل ښکار په تارونو کي را ګیر کړي. په همدې ګیر پاتي کیدو کي مو لاس پیښي ښورول چي د ننګیال د مرګ خبر تر ماسکو پورې را ورسید.

ننګیال د خپلي شاعرۍ وروستي بیلګي ته «یو باد یو منصور» سرلیک ټاکلی و. وروسته له مرګ نه یې په ماسکو کي هم خپور شو.

په هغه اخبار کي چي دا شعر چاپ شوی و، دا اخبار په لاس د میترو په سورلۍ کور ته روان وم. په لاره کي مي میترو بدله کړه، بلي میترو ته ولاړ وم. ما اخبار مخ ته نیولی و او د ننګیال د زړه وروستۍ خبره مي د زړه په وینو او د سترګو په اوښکو پریوله چي میترو په چټکتیا راغله. «یو باد یو منصور» او زما اوښکو، زما لاسونه دومره را سست کړي وو چي د میترو باد اخبار رانه وتښتاوه او ښکته یې د میترو کرښي ته وغورزاوه او ما داسي وانګیرله چي همدا اوس مي لکه دا اخبار، ننګیال له لاسه ووت:

... د اسحق ننګیال د لومړي تلین له پاره چي ما څه یادداشتونه لیکلي وو، د ماسکو په «هره میاشت کده بار» کي رانه ورک شوي وو، وروسته له کلونو اوس په لاس راغلل. لکه څنګه چي مخکي مي هم وویل، زه د هغه وخت لیکلو یاداشتونو کي لاس نه وهم، کټ مټ یې خپروم:

ــ د سیندونو د شنیلیو شاعر نه مري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ او دا دی موږ د دردونو او غمونو نسل یو. موږ دا غرونه، غرونه غمونه په چا وچلوو. موږ باید د زړه پر واړه کورګي باندې، د غرونو په څیر درانه غمونه وزغمو. دا دي د ننګیال ویر یو کلن شو، خو زه یې داسې انګیرم چې پرون فردا په ټیلیفون کې را ته وویل:

« ننګیال هم ولاړ او ته به...»

ـ ننګیال په داسي چاپیریال کې شعر وایي چې ده ته د خپل کلي چناورنه دار شوي و.

ـ او دا دی پوره شل ورځې واوښتې چې د اسحق ځنازه، د دویم ځل له پاره پر اوږو ګرځوم، د ده د سیندونو ځنازه، او د ده د بهارونو ځنازه، د ده د ګودرونو ځنازه او د ده د درمندونو ځنازه؛ خو په دې ځنازه کې د ننګیال د ژوند د ورا ګردونه هم وینم، د ده د شعر زلمیان وینم چې تلپاتې نڅا کوي.

ـ دې ځوانیمرګ د خپل تپي وطن، وچو ګودرونو، پرې ونو او... په ویر کې، له خپل وچ کلک او زیږ زیبنلي وجود نه؛ نه ایساریدونکي آهونه را ایستل او «یو باد یو منصور» یې وروستی آه دی.

ـ د ننګیال هدیره، د ده په شعرونو کې ده؛ دی په خپلو شعرونو کې ښخ دی.

ـ د ننګیال سپیڅلي موسکا، خندا یې د شونډو په څنګ کې کنګل کیده.

ـ ننګیال د غمونو او دردونو په کنډواله کې هغه راشین شوی ګل دی چې اوسنی پښتو شاعري پرې ویاړي. ننګیال خپل هر شعر د زړه په وینو خروب کړی دی.

ـ د ننګیال شاعري زموږ پر اولس د تپل شوي غمیزې په تور څادر کې په خاپوړو شوې، د نادودو د زهرجنو پیالو په څښلو زلمی شوې او د ناروا په سوزنده اور کې پخه شوې او بیا پښتو ژبې ته ډالۍ شوې ده؛ خو افسوس چې دغه ډالۍ ډیره ژر له پښتو ژبې او پښتنو نه بیرته واخستل شوه او د مرګ تر ستوني تیره شوه.

ـ د ننګیال شاعري که په دریو برخو وویشو، په دې ډول به وي:

**۱ـ د تنکیو بزغلیو دور (په دې دور کې شعارونه تر شعرونو ډیر دي)،**

**۲ـ د سپیرو ډاګونو شنه کیدل (له شعاریت نه شعریت نږدې کیدل)،**

**۳ـ د فصلونو پخیدل او تولول (د ۱۳۷۱ له ثور نه تر پایه پورې)،**

ـ د ننګیال د شاعرۍ د دریمي دورې د شعرونو په لوستلو سره د توپکیانو ټولې هغه نادودې، ناکردې، تیرې او ظلمونه، ورانۍ او کنډوالې، بې لاسو او بې پښو انسانان، سوځیدلې او تپي ودانۍ، ګدایي ته اوړیدلي لاسونه، سو تغذي انسانان او... د لوستونکو سترګو ته په ژوندۍ بڼه درول کیږي او پر خلکو او وطن باندې رواني نادودې، د هغو اورونو د لمبو په آیینه کې ګورو چې د اسحق بدن، د اسحق روح او روان او د ننګیال اولس او وطن په کې سوزیدلی دی.

ـ ننګیال د غمیزو په زړه کې ژوند وکړ او د همدغو غمیزو په زړه کې ومړ.

ـ ننګیال د تولو ویرونو او نادودو لیدونکی شاعر پاتې شوی دی چې وروستی شعرونه یې د دغې خبرې ښه سند کیدای شي.

ـ ننګیال د افغانستان د غمیزو انځورګر شاعر پاتې شوی دی.

ــ او...

او دا هم د ده وروستی شعر:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

## یو باد یو منصور

**یو باد رالګیدلی ما له ځانه سره وړي**
**د زړه اس مې له باره، له ارمانه سره وړي**

**د شپو پر اوښ یو غل دی زموږ کلي ته راغلی**
**ګلونه او باغونه، له باغوانه سره وړي**

**یو پل وم چیرته لرې ستا پر لاره زرغون شوی**
**یو لوټ مې اوس له باد و له بارانه سره وړي**

**یو څوک دی ستا د لاس شراب یې تول راځنې وڅښل**
**دا سره کیږدی د خوب مې له توپانه سره وړي**

**زموږه یې په سترګو کې د شپو دوړې شیندلي**
**دا لوی کاروان مو څکه له ښاروانه سره وړي**

**نارې د اناالحق یې ورته وچې کړې پر ژبې**
**منصور وطن مې دار ته له ایمانه سره وړي**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ